د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**گڼه: 429**

(01 حوت – 07 حوت  1402 هـ ش)

## د پاکستان په ټاکنو کې د قدرت مبارزه او د افغانستان لپاره راتلونکې سناریوګانې




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انگلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د پاکستان په ټاکنو کې د قدرت مبارزه او د افغانستان لپاره راتلونکې سناریوګانې ......................3
- په پاکستان کې د 2024 م کال ټاکنو ته یوه کتنه ......................................................3
- د دغه هېواد په راتلونکي حکومت کې د پاکستان د حالاتو څېړنه ........................................5
- له افغانستان سره د پاکستان د راتلونکي حکومت سناریو......................................................7
- پایله ........................................................................................................9
- مأخذونه ......................................................................................................9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د پاکستان په ټاکنو کې د قدرت مبارزه او د افغانستان لپاره راتلونکې سناریوګانې

## سریزه

د پاکستان د عمومي ټولټاکنو دولسمه دوره چې د روان کال د فبرورۍ په 8 نېټه ترسره شوې. ډېرې رایې د خپلواکو کاندیدانو وې، چې شاوخوا 92 کسان یې د عمران خان په مشرۍ د تحریک انصاف ګوند (د پاکستان ګوښه شوی لومړی وزیر چې لا هم په زندان کې دی) ملاتړ لري. د نواز شریف په مشرۍ د نواز شریف مسلم لیګ ګوند PML(N) چې تر دې مخکې درې ځلې د پاکستان صدراعظم و، 79 څوکۍ او د بلاول بوټو زرداري په مشرۍ د پاکستان پیپلز ګوند (PPP) 54 څوکۍ وګټلې.[1]

په 2018 م کال کې د تحریک انصاف ګوند مشر عمران خان د رایو په اکثریت سره د ملي ټاکنو په پایله کې د لومړي وزیر څوکۍ وګټله، خو په 2022 م کال کې د اپوزیسیون د جوړېدو او له پارلمان څخه د نه باور رایې له امله نوموړی د صدراعظمۍ له څوکۍ لرې کړای شو او پر ځای یې د اپوزیسیون مشر شهباز شریف د پاکستان د صدراعظمۍ پر څوکۍ تکیه وکړه. تر دې مخکې په 1999 م کال کې د پاکستان لومړی وزیر نواز شریف د یوې پوځي کودتا په پایله کې د لومړي وزیر له څوکۍ لرې شوی وو،[2] او تر دې وړاندې په 1988، 1977 او 1958 کلونو کې هم په پاکستان کې حکومت د کودتا او یا هم ورته څه له لارې خپل شکل بدل کړی و.[3]

د پاکستان د 2024 م کال د انتخاباتو نتیجې د رایې ورکولو په بهیر کې د درغلیو او اعتراضونو له ادعاوو سره سره اعلان شوې، په داسې حال کې چې د دغه هیواد په 336 کسیز پارلمان کې هیڅ یوه ګوند هم ونه شو کړای چې د پارلمان (١٦٩) نصاب چې د یو حکومت د جوړولو معیار دی پوره کړي. خو وروستي راپورونه وايي چې د نواز شریف مسلم لیګ ګوند د پاکستان له پیپلز ګوند سره چې په پاکستان کې دوه مشهور ګوندونه دي او له تحریک انصاف وروسته یې تر ټولو زیاتې رایې ګټلې دي، د راتلونکي حکومت د جوړولو لپاره اتحاد وکړی. که څه هم په یوازې توګه د دواړو ګوندونو رایې نصاب ته نه رسیږي. په پاکستان کې د روان کال ټاکنو اود دغه هېواد د راتلونکي حکومت په اړه د پاکستان وضعیت ته په کتو او د افغانستان په اړه د پاکستان د راتلونکي حکومت سناریو به څه وي؟ دا یو له اصلي موضوعاتو څخه دي چې پدې مقاله کې به بحث وشي.

## په پاکستان کې د 2024 م کال ټاکنو ته یوه کتنه

د پاکستان د انتخاباتو وروستۍ نتیجې چې ویل کیږي د 128 میلیونو رایه ورکوونکو له ډلې 28 سلنه یې برخه پکې اخیستې وه، له څو ورځو ځنډ وروسته اعلان شوه چې د تحریک انصاف مشر عمران خان د دغه هېواد د موقت حکومت له خوا په 14 کاله بند محکوم شو او اوس په زندان کې دی، خو پدې ټاکنو کې د هغه ګوند مخکې و. بل پلو د ټاکنو څخه یو ورځ مخکې د پاکستان په بلوچستان ایالت کې د ټاکنو دفتر ته څېرمه دوې خونړۍ چاودنې وشوې، چې له امله یې شاوخوا 30 کسان ووژل شول او همدا راز د ټاکنو په

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ورځ هم په دغه ولایت کې د یوه ځای پر ځای شوي ماین چاودنې په پایله کې نهه کسان ووژل شول. د خیبر پښتونخوا په صوبه کې هم د پولنګ په یو مرکز وسله وال برید وشو.[4]

له بلې خوا، سره له دې چې د رایو شمېرنې څو ورځې ونیولې، خو د پاکستان په لویو ښارونو کې د راولپنډۍ د ټاکنو د کمېشنر لیاقت علي چټه په څېر د ځینو ټاکنیزو کمېشنرانو د اعترافاتو له امله پراخې مظاهرې او لاریونونه وشول، هغه په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې وویل چې تر فشار لاندې دی ترڅو د عمران خان د پلوي نوماندانو پر ضد د درغلۍ ورته عمل وکړي. په همدې حال کې په کوټه کې د بېلابېلو سیاسي ګوندونو مشرانو او پلویانو بلوچستان ته تلونکې ټولې لویې لارې او یو شمېر نورې فرعی لارې وتړلې. ویل کېږي چې د پاکستان له پیپلز ګوند او ځینو نورو ګوندونو سره د نواز مسلم لیګ اتحاد، د پاکستان شاوخوا 19 سیاسي او مذهبي ګوندونو د همکارۍ پر اجنډا د توافق له لارې د «ستر ډیموکراتیک اتحاد» تر عنوان لاندې یو نوی جوړښت جوړ کړی دی.[5]

**NATIONAL ASSEMBLY OF PAKISTAN**
**SEATS WON BY PARTIES IN GENERAL ECLECTIONS 2024**

| Sr. | Party | Seats won | Percentage |
|---|---|---|---|
| 1 | Ind ( Backed by PTI ) | 92 | **40.89%** |
| 2 | PML (N) | 79 | **35.11%** |
| 3 | PPP | 54 | **24.00%** |
| | Total | 225 | **100%** |

لکه څنګه چې د پورته جدول له مخې هیڅ یو ټاکنیز ټیم د لومړي وزیر کیدو لپاره کافي رایې ونه ګټلې، مګر د پاکستان اساسي قانون حکم دی چې سیاسي ګوندونه باید د ټاکنو څخه وروسته په درېیو اونیو (21 ورځو) کې حکومت جوړ کړي. د یادونې وړ ده چې د پاکستان پارلمان 336 څوکۍ لري، چې له دې جملې څخه 266 څوکۍ د ټاکنو په ورځ د مستقیمو رایې اچونې له لارې ټاکل کېږي، په داسې حال کې چې 60 څوکۍ د ښځو او 10 څوکۍ د غیر مسلمو لږکیو لپاره ځانګړې شوې دي.[6] چې په پارلمان کې د هر ګوند د ځواک پر بنسټ ویشل کېږي. د ملي اسمبلۍ له جوړېدو وروسته د لومړي وزیر د ټاکلو لپاره رایه اچونه کېږي او بریالی کاندید باید د اسمبلۍ د اکثریت رایو، چې لږ تر لږه د اسمبلۍ د 169 غړو ملاتړ کېږي ترلاسه کړي. کله چې یو کاندید په پارلمان کې اکثریت رایې وګټي، هغه د لومړي وزیر په توګه لوړه کوي. د لوړې کولو وروسته هغه د خپلې کابینې وزیران ټاکي چې فدرالي حکومت جوړوي. دې پروسې ته ورته پروسه د ایالات په کچه د اعلی وزیر او محلي حکومت د جوړولو لپاره ترسره کېږي.

په همدې اساس په ټولټاکنو کې د درغلیو د ادعاوو پر بنسټ ملي مظاهرې په داسې حال کې کېږي چې پاکستان په ناوړه اقتصادي وضعیت کې دی او امنیتي وضعیت هم خراب دی. دا چې د رایو په اکثریت سره د ګوندونو لخوا د ایتلافي حکومت د جوړولو په اړه به د پاکستان وضعیت څه وي، لاندې به پرې بحث وکړو.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د دغه هېواد په راتلونکي حکومت کې د پاکستان د حالاتو څېړنه

د انتخاباتو د وروستیو نتیجو او په انتخاباتو کې د مخکښو ګوندونو د انتخاباتي مرکزونو د څرګندونو له مخې، داسې انګیرل کېږي چې له دغو دوو پیاوړو ټیمونو څخه به یو د پاکستان د واک په لاس کې واخلي چې هر یو به یې د پاکستان، سیمې او ګاونډیو هېوادونو تر منځ د اړیکو په اړه خپل تاثیر ولري:

- **د پاکستان د پیپلز ګوند سره د نواز ځانګې انتخاباتي ټیم اتحاد**: داسې ښکاري چې د پاکستان مسلم لیګ د نواز ځانګې ګوند به د پاکستان د پیپلز ګوند او څو نورو ګوندونو په همکارۍ ایتلافي حکومت جوړ کړي او په ورته وخت کې ګمان کېږي د نواز شریف ورور شهباز شریف به لومړي وزیر څوکۍ ته نوماند ګڼل کیږي. په هرصورت، په دې ټاکنیز ټیم کې احتمالي صحنه به له دې څخه لرې نه وي چې پخپله نواز شریف یا د هغه کشر ورور شهباز شریف یا د پاکستان د پیپلز ګوند مشر بلاول بوټو زرداري د صدراعظمۍ څوکۍ ته کاندیدان وي. خو تر دې وړاندې هم د پاکستان خلکو ګوند او مسلم لیګ ګوند د عمران خان د حکومت د ړنګولو لپاره د اتحاد له جوړولو مخکې وخت په وخت یو پر بل تورونه پورې کړي. د مهر خبرې آژانس د «پاکستان» ورځپاڼې له قوله لیکي، بلاول بوټو زرداري له نواز شریف څخه په 2016 م کال کې وغوښتل چې د پاکستان له صدراعظمۍ څخه استعفا وکړي او شریف ته په خطاب کې یې وویل چې د نواز شریف د حکومت بیړۍ لړزیږي او د هغه د حکومت بنسټونه کمزوري شوي دي. او هغه باید د صدراعظمۍ له مقامه استعفا وکړي تر څو د هغه او د هغه د اولادونو مالي فسادونه وڅیړل شي». [7] خو په دموکراتیکو ټولنو کې د سیاست د تفسیر له مخې د دواړو ګوندونو د ائتلاف د احتمال له کبله «سیاست مور او پلار نه پیژني». داسې ښکاري چې نواز شریف په اداري فساد او په ځانګړې توګه په مالي فساد تورن شوی دی، تر دې چې ورور یې شهباز شریف لومړی وزیر شو، په لندن کې په جلاوطنۍ کې و.

په هر صورت، دې ته په پام سره چې دغه ټاکنیز ټیم د مخالف ټیم په پرتله د دغه هېواد پوځ ته نږدې دی. او له شک پرته د پاکستان پوځ تل د هېواد له خپلواکۍ وروسته د حکومتونو په جوړولو او نسکورولو کې مرکزي رول لوبولی دی او له بلې خوا د اوسني لنډمهاله حکومت له داخلي اړخ څخه د لاس اوبدل شوي اپوزیسیون د دغو ګوندونو په مشرۍ د عمران خان د حکومت پر ضد یو لوی ائتلاف جوړ شوی دی، له همدې امله د دې احتمال شته چې دغه ګوندونه بیا واک ته ورسېږي. د یادونې وړ ده، چې له واکه د عمران خان له لرې کېدو وروسته د پاکستان اقتصادي او امنیتي وضعیت ورځ په ورځ په خرابیدو و. د دغو ګوندونو له خوا د ادعا شویو درغلیو په تړاو د پراخو اعتراضونو او مظاهرو له کبله او د مخالفو ګوندونو په تېره بیا د تحریک انصاف ګوند د صدراعظمۍ څوکۍ ته د نه لاسرسي په صورت کې خبرداریو له کبله، د شته اقتصادي ستونزو سره سره د دغه هېواد امنیتي او سیاسي ننګونې چې د ببلګې په توګه یې د اقتصادي ننګونو په اړه ویلای شو: د پاکستان څه باندې 40 سلنه وګړي د بې وزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي، انفلاسیون له 30 سلنې څخه ډېر شوی دی. همدا راز د یوې سروې له مخې چې څه موده وړاندې ترسره شوې، د هېواد شاوخوا 70 سلنه وګړي


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په دې باور دي چې اقتصادي وضعيت مخ په خرابېدو دی. په عين حال کې، د پاکستان مرکزي بانک د 2024 کال تر جون پورې د 24 مليارد ډالرو په ارزښت د بهرنيو پورونو د ورکړې له بحران سره مخ دی.[8]
له همدې امله که دا ډله واک ترلاسه کړي په پاکستان کې به د وضعيت د ښه کيدو تمه ډېره کمه وي. له بلې خوا له امريکا سره د دغه انتخاباتي ټيم دوستانه اړيکې د تحريک انصاف د ټيم په پرتله نږدې ښکاري، نو دا به د دې سبب شي چې د دغه هيواد په پوځي ځواکونو باندې د تحريک طالبان پاکستان(TTP) حملې زياتې شي. چې د ناامنۍ له امله رامنځ ته شوې اقتصادي بحران به لاپسې زيات شي.
**- د پاکستان د تحريک انصاف ټاکنيزه ډله:** د يادولو وړ ده چې د تحريک انصاف گوند په داسې حال کې چې د تحريک انصاف گوند مشر عمران خان په زندان کې دی، په ټاکنو کې د 92 پارلماني څوکيو گټل د هرچا لپاره غير متوقع او حيرانوونکی ده. خو تحريک انصاف د دغه شمير څوکيو په گټلو سره نصاب نه دی پوره کړی. د پاکستان د قانون له مخې دغه انتخاباتي ټيم هم اړ کېږي چې په ټاکنو کې له ښکېلو نورو گوندونو سره يو ائتلاف جوړ کړي، چې وروستي راپورونه ښيي چې دغه گوند له دوو سره نورو گوندونو «د سني اتحاد شورا» او د شيعه گوند (مجلس وحدت المسلمين) سره ائتلاف جوړ کړی دی.
له بلې خوا دې ته په پام سره چې د پاکستان په انتخاباتو کې د ادعا شويو درغليو په تړاو يو شمېر متضاد گوندونه چې ويل کېږي 19 گوندونه دي او تل د تحريک انصاف گوند له پلويانو سره په مظاهرو کې برخه اخلي،[9] گومان کېږي چې ځينې دغه گوندونه هم په وروستيو ورځو کې له تحريک انصاف گوند سره يو ځای شوي او ايتلاف يې جوړ کړي، او دا انتخاب د تحريک انصاف لپاره دا ممکنه کوي چې بيرته واک ته راشي.
خو له بلې خوا، دې ته په پام سره چې امريکا معمولاً د سيمه ييزو حکومتونو په جوړولو کې رول لوبوي او عمران خان په دې باور دی چې روسيې ته له خپل سفر او له ولاديمير پوتين سره له کتنې او د اوکراين پر ضد د روسيې له پوځي عملياتو وروسته په مسکو کې د هغه د حضور او همدا راز د اوکراين پر ضد پوځي عمليات په اړه د روسيې په غندلو کې د هغه بې طرفي د پاکستان د صدراعظم له څوکۍ څخه د هغه لرې کول دا د امريکا لخوا پيل شوې دسيسه وه.[10] دا يو له مهمو مسايلو څخه دی چې د لومړي وزير مقام ته د تحريک انصاف بيرته راستنيدو امکان کموي. په هرصورت، دې ته په پام سره چې عمران خان داسې وخت د لومړي وزير پر موقف تکيه وکړه چې پاکستان مناسب اقتصادي او سياسي وضعيت نه درلود ليکن حکومت يې اقتصاد محوره پاليسي غوره کړې وه. او د تحريک طالبان پاکستان بريدونه لکه څنگه چې نن ترسره کيږي د عمران خان په وخت کې کم و، همدارنگه د تحريک طالبان پاکستان سره د عمران خان نرم او بې طرفه سياست او فکري مشترکاتو ته په پام سره ويلو شو چې په دې ټاکنو کې د دې گوند د پراخ ملاتړ سره سره بيا راڅرگندېدل به د پاکستان د وضعيت په ښه کولو کې مرسته وکړي. په څرگنده توگه، تمه کيږي چې د پورته ملاحظاتو له مخې د تحريک انصاف گوند بيرته واک ته د رسيدو په صورت کې به د تحريک طالبان

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

پاکستان بریدونه کم شي. خو د دې احتمال شته چې پر پاکستان د امریکا له خوا په غیر مستقیم ډول بندیزونه ولګول شي.

## له افغانستان سره د پاکستان د راتلونکي حکومت سناریو

د پاکستان د راتلونکي حکومت د جوړېدو په اړه د پورتنیو امکاناتو او له اسلامي امارت سره د هغه د ممکنه شخصیتونو د اړیکو شالید ته په پام سره؛ دا لاندې سناریوګانې ممکنوی:

**لومړی سناریو:** د پاکستان د پیپلز ګوند او د نواز مسلم لیګ ګوند له ایتلاف سره د ټاکنیز ټیم د بریا په صورت کې، چې مشران یې له کلونو راهیسې په واک کې دي او هر یو یې د افغانستان ځانګړې توګه د اسلامي امارت په اړه خپله تګلاره درلوده، د بېلګې په توګه نواز شریف په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ په لومړۍ دوره کې د پاکستان لومړی وزیر و او د هغه حکومت لومړنی حکومت و چې اسلامي امارت یې په رسمیت وپېژانده او له 1997 تر 1998 پورې یې د ملا محمد عمر څخه چې په هغه وخت کې د افغانستان واکمن وو ستاینه وکړه. حتی نواز شریف هم هغه وخت د پاکستان د پارلمان غړو ته ویلي وو چې په افغانستان کې د طالبانو د حکومت د ده مودل دی. تر دې چې په 1999 کال کې د جنرال پرویز مشرف کودتا د هغه د پلان د سقوط لامل شوه. همدارنګه په 2013 م کال کې د نواز شریف د واک د ترلاسه کولو سره سم، هغه اعلان وکړ چې له پاکستاني طالبانو سره به خبرې اترې کوي. په داسې حال کې چې په افغانستان کې د جمهوري ریاست په دوره کې اکثرو حکومتي چارواکو د پاکستان په اړه مثبت نظر نه درلود او تل یې د افغانستان په ناامنیو کې د پاکستان لاس ګڼلی و، خو د حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال 2013 م او د اشرف غنی د حکومت په دوره 2015 م کې نواز شریف د ډیپلوماټیکې اړیکې د ټینګولو لپاره د لوړ پوړې دولتي پلاوي په مشرۍ افغانستان ته راغلی و.

دغه راز د نواز شریف ورور شهباز شریف چې ویل کېږي د دغه هیواد له پوځي چارواکو سره دوستانه اړیکې لري او تر ډېره بریده ویل کېږي چې د پاکستان لومړی وزیر به وټاکل شی، پخوا د پنجاب ایالت د اسمبلۍ غړی و، د دغه ایالت اعلی وزیر و، او په دې وروستیو 2022 م کال کې له واکه د عمران خان په لرې کیدو د اپوزیسیون لخوا د پاکستان د لومړي وزیر په توګه وټاکل شو او د 2023 م اکتوبر پورې د لومړي وزیر په توګه پاتې شو. شهباز شریف چې کله د پاکستان لومړی وزیر و، د ملګرو ملتونو په 77مه عمومي غونډه کې په افغانستان کې د ترهګرو ډلو پر شتون اندېښنه څرګنده کړه او ویې ویل: (القاعده، داعش، تحریک طالبان پاکستان، د ختیځ ترکستان اسلامي غورځنګ او د ازبکستان اسلامي غورځنګ) په افغانستان کې شتون لري، چې د افغانستان اسلامي امارت د نوموړي دغه څرګندونې غیر مسوولانه او له فشار څخه ډکې وبللې او د روان کال په اسد میاشت کې یې هم د اسلامي امارت له حکومت څخه وغوښتل چې له پولې دې پاکستان ته د جنګیالیو د ورتګ مخه ونیسي.[11]

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

او د دې په پام کې نیولو سره چې د مسلم لیګ او پاکستان پیپلز ګوند هر یو د رایې ورکولو له لارې د اتحاد پرته په دې هیواد کې لوړ او ټیټ مقامونو ته رسیدل تقریبا ناممکن دي، او همدارنګه د دوی ګډ سیاسي ادبیات او د پاکستان له پوځ سره نږدې ورته اړیکې، د عمران خان د حکومت پر ضد د اپوزیسیون اتحاد؛ موږ باید په دې سناریو کې د پاکستان د پیپلز ګوند مشر بلاول بوټو زرداري هم شامل کړو.

د پاکستان د پیپلز پارټۍ څخه بلاول بوټو زرداري، چې د لومړي وزیر په توګه یې د ټاکل کیدو احتمال ډېر لږ دی، کله چې هغه د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر و، هغه په افغانستان کې د اسلامي امارت د حکومت په اړه ځرګند نظر نه درلود. لکه څنګه چې ده ویلي وو: امریکا او ناټو خپلې وسلې په افغانستان کې پرېښودې او دغه هېواد یې پرېښود، اوس دغه وسلې د تروریزم او د جنایتکارو ډلو په لاس کې دي، چې دا د افغانستان لپاره یو ګواښ دی. زه هیله لرم چې له افغان حکومت سره په ګډه له دغه ګواښ سره مبارزه وکړو. موږ له سرپرست حکومت څخه غواړو چې د هغو ډلو پر وړاندې اقدام وکړي چې د پاکستان امنیت ګډوډوي. طالبان (اسلامي امارت) باید خپل مکلفیتونه پوره کړي، اوکه د پاکستان مرستې او همکارۍ ته اړتیا لري،باید همکاري ورسره وکړي شي»[12]

له همدې امله د هر یوه د نظر اختلاف او د خپل وخت د حکومت د اړیکو شالید ته په کتو، د دواړو ورونو او د بلاول بوټو زرداري د صدراعظمۍ په قضیه کې د نواز شریف ترخې تجربې ته په کتلو سره او په نولسمه لسیزه کې د اسلامي امارت ملاتړ او د شهباز شریف او بلاول بوټو زرداري نظریات داسې انګیرل کیږي چې د دواړو خواوو سیاسي ادبیات په ځانګړي توګه د پاکستان حکومت به یو نا اندوله حالت ته غاړه کیږدي، که څه هم ځینې وختونه خوشبینه وي او د افغانستان له حکومت څخه ملاتړ کوي او کله ناکله سیاسي او اقتصادي فشارونه اچوي چې په دواړو حالتونو کې د دغه هېواد پر دولتي ځواکونو د تحریک طالبان پاکستان د بریدونو د شدت له امله د دواړو هېوادونو ترمنځ ډیپلوماتیکه فضا خړې پړې کړي.

**دوهمه سناریو:** دوهمه صحنه د تحریک انصاف ګوند پورې اړه لري. عمران خان د خپل حکومت له پیل راهیسې له امریکا څخه د لیرې کیدو او چین او روسیې ته د نږدې کیدو پالیسي غوره کړې وه، چې طالبان هم په هماغه لور روان وو، په 2018 م کال کې یې له ډونالډ ټرمپ سره په ټوېټر کې شخړه هم راپورته شوه. د افغانستان د حالاتو او د افغانستان د اسلامي امارت په اړه د ټرمپ لخوا د عمران خان تورنول د طالبانو او عمران خان د فکر یووالي یوه ښکاره بېلګه ګڼل کېږي. له بلې خوا عمران خان له افغانستانه د امریکایي پوځیانو له وتلو وروسته امریکا ته اجازه ورنکړه چې د افغانستان د حالاتو د څارنې لپاره له پاکستاني اډو څخه کار واخلي. [13] له بلې خوا عمران خان په اسلام اباد کې د اسلامي همکاریو د سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو په غونډه کې چې د 2021 م کال په نومبر میاشت کې په افغانستان کې د نجونو د تعلیم په اړه جوړه شوې وه، وویل چې نړیواله ټولنه باید د افغانانو کلتور او د افغان ولس هیلو ته درناوی وکړي. او دا چې د هغه د خبرو مفهوم داسې و چې د افغان ولس کلتور او هیله د نجونو له زده کړې سره اړخ نه لګوي. او دا هغه څه وو



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

چې اسلامي امارت هغه مهال غوښتل. له همدې امله داسې ښکاري چې د عمران خان په راتګ سره به د افغانستان د اسلامي امارت او د پاکستان د حکومت ترمنځ اړيکې ښې شي او هم به د عمران خان د خلکو د ملاتړ او د امريکا ضد احساساتو له امله د پاکستان د تحريک طالبان بريدونه به کم شي، چې په پايله کې به د اسلام اباد -کابل په اړيکو کې مرسته وکړي. له بلې خوا عمران خان د خپل صدراعظمۍ پر مهال له ترکيې او ايران سره ښې اړيکې درلودې، چې د اسلامي امارت غوښتنه هم دا ده. له همدې امله په واک کې د عمران خان راتلو سره دا باور دی چې د افغانستان په ګډون په سيمه کې به منظمې او دوستانه اړيکې ولري.

## پايله

د پورتنيو ځرګندونو پر بنسټ، موږ دې پايلې ته رسيږو چې که د پاکستان راتلونکی حکومت د پاکستان د خلکو د ګوند او د مسلم ليګ ګوند د ټاکنيز ټيم د ايتلاف لخوا جوړ شي. د عامه وګړو د رضايت خلاف (چې ځانونه يې په ټاکنو کې د عمران خان د پلويانو په توګه معرفی کول) له حکومت څخه، د پاکستاني طالبانو د بريدونو شدت او په پای کې د افغانانو د ازادۍ او خپلواکۍ غوښتونکو چلند به د دې لامل شي چې پاکستاني چارواکي پر افغانان حکومت تور پورې کړي. او دا به د اسلامي امارت او پاکستان تر منځ اړيکې خړې پړې کړي. او دغه ستونزه به د افغانستان پر اقتصاد چې له پاکستان څخه جنوبي اسيا او حتی چين ته د سوداګرۍ په لاره کې د لانجې د رامنځته کېدو او همدارنګه د سياسي فشارونو د رامنځته کېدو له امله چې د اسلامي امارت لپاره ناخوښ راتلونکی وی، ډېره اغېزه ولري.

خو که له يوې خوا د تحريک انصاف ګوند د انتخاباتي ټيم له خوا حکومت جوړيږي، له يوې خوا په سيمه کې له نفوذ لرونکو هېوادونو سره د عمران خان د اړيکو ښه تاريخ ته په پام سره په سيمه کې د ثبات لپاره د سيمه ييزو هڅو امکان هم شته. او له بلې خوا د پاکستان له تحريک طالبان سره د عمران خان تفاهم ته د رسېدو امکان زيات دی. په پايله کې به دواړه د افغانستان په ګټه وي او تمه کيږي چې افغانستان به وکولای شي چې په اقتصادي او سياسي لحاظ هم په نږدې راتلونکي کې خپل منزل ته ورسيږي. دا هم بايد له پامه ونه غورځول شي چې په پاکستان کې د پراخو نګونو سربېره که چيرې مظاهرې دوام وکړي او په تاوتريخوالي بدل شي، د دغه هيواد پوځ به بشپړ واک په لاس کې واخلي، دا چې ددې احتمال يې ډېر کم دی له دې امله مونږ هم پر دې بحث نه کوو. **پای**

## مأخذونه

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

1 .Pakistan Election 2024: Live Results, Party Positions, Candidates List, Constituencies Details, News Updates, link: https://www.geo.tv/election

2. BBC: نواز شريف: مردی برای تمام فصول، 17 دلو 1402 ه.ش؛ لينک:
https://www.bbc.com/persian/world-features-68190609

3. مؤسسه مطالعات راهبردی شرق: نگاهی به چرخه قدرت در پاکستان؛ جدال نظاميان و سياسيون، 19 جوزا 1399ه.ش؛ لينک:
https://www.iess.ir/fa/analysis/2312/

[4]. خبرگزاری جمهور: انفجار تروریستی در بلوچستان پاکستان همزمان با انتخابات پارلمانی، 19 دلو 1402ه.ش؛ لینک:
https://www.jomhornews.com/fa/news/168639/

[5]. خبرگزاری مهر: تظاهرات گسترده در پاکستان در اعتراض به نتائج انتخابات پارلمانی، 28 دلو 1402ه.ش؛ لینک:
https://www.mehrnews.com/news/6026606/%D8%AA%D8%B8%D8%A7%D9%87%D8%B1%D8%A7%D8%AA%DA%AF%D8%B3%D8%AA%D8%B1%D8%AF%D9%87%D8%AF%D8%B1%D9%BE%D8%A7%DA%A9%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86%D8%AF%D8%B1%D8%A7%D8%B9%D8%AA%D8%B1%D8%A7%D8B6%D8%A8%D9%87%D9%86%D8%AA%D8%A7%DB%8C%D8%AC%D8%A7%D9%86%D8%AA%D8%AE%D8%A7%D8%A8%D8%A7%D8%AA%D9%BE%D8%A7%D8%B1%D9%84%D9%85%D8%A7%D9%86%DB%8C

[6]. الجزيرة: قانون الانتخابات والنظام الانتخابي في باكستان، 17 دلو 1402ه.ش، لينك:
https://www.aljazeera.net/encyclopedia/2024/2/6/%D9%82%D8%A7%D9%86%D9%88%D9%86%D8%A7%D9%84%D8%A7%D9%86%D8%AA%D8%AE%D8%A7%D8%A8%D8%A7%D8%AA%D9%88%D8%A7%D9%84%D9%86%D8%B8%D8%A7%D9%85%D8%A7%D9%84%D8%A7%D9%86%D8%AA%D8%AE%D8%A7%D8%A8%D9%8A#:~:text=%D8%AA%D8%AA%D9%83%D9%88%D9%86%20%D8%A7%D9%84%D8%AC%D9%85%D8%B9%D9%8A%D8%A9%20%D8%A7%D9%84%D9%88%D8%B7%D9%86%D9%8A%D8%A9%20%D9%85%D9%86%20342,%D9%84%D9%8A%D8%B5%D8%A8%D8%AD%20%D8%B9%D8%AF%D8%AF%20%D8%A7%D9%84%D9%85%D9%82%D8%A7%D8%B9%D8%AF%20%D8%A7%D9%84%D8%A5%D8%AC%D9%85%D8%A7%D9%84%D9%8A%20336.

[7]. خبرگزاری مهر: پسر بی نظیر بوتو: نواز شریف از مقام .... 11 اردیبهشت 1395 ه ش لینک:
https://www.mehrnews.com/news/3612945/%D9%BE%D8%B3%D8%B1%D8%A8%DB%8C%D9%86%D8%B8%DB%8C%D8%B1%D8%A8%D9%88%D8%AA%D9%88%D9%86%D9%88%D8%A7%D8%B2%D8%B4%D8%B1%DB%8C%D9%81%D8%A7%D8%B2%D9%85%D9%82%D8%A7%D9%85%D9%86%D8%AE%D8%B3%D8%AA%D9%88%D8%B2%DB%8C%D8%B1%DB%8C%D8%A7%D8%B3%D8%AA%D8%B9%D9%81%D8%A7-%DA%A9%D9%86%D8%AF

[8]. AL Jazeera: Abid Hussain, Pakistan's election: Can the next government bring economic stability? 7 Feb 2024, link:
https://www.aljazeera.com/economy/2024/2/7/pakistans-election-can-the-incoming-government-bring-economic-stability

[9]. خبرگزاری مهر: تظاهرات گسترده در پاکستان در اعتراض به نتائج انتخابات پارلمانی، 28 دلو 1402ه.ش؛ لینک:
https://www.mehrnews.com/news/6026606/%D8%AA%D8%B8%D8%A7%D9%87%D8%B1%D8%A7%D8%AA%DA%AF%D8%B3%D8%AA%D8%B1%D8%AF%D9%87%D8%AF%D8%B1%D9%BE%D8%A7%DA%A9%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86%D8%AF%D8%B1%D8%A7%D8%B9%D8%AA%D8%B1%D8%A7%D8%B6%D8%A8%D9%87%D9%86%D8%AA%D8%A7%DB%8C%D8%AC%D8%A7%D9%86%D8%AA%D8%AE%D8%A7%D8%A8%D8%A7%D8%AA%D9%BE%D8%A7%D8%B1%D9%84%D9%85%D8%A7%D9%86%DB%8C

[10]. خبر آنلاین: عمران خان دلیل برکناری خود را اعلام کرد؛ 21 جوزا 1402 ه.ش؛ لینک:
https://www.khabaronline.ir/news/1776367/%D8%B9%D9%85%D8%B1%D8%A7%D9%86%D8%AE%D8%A7%D9%86%D8%AF%D9%84%DB%8C%D9%84%D8%A8%D8%B1%DA%A9%D9%86%D8%A7%D8%B1%DB%8C%D8%AE%D9%88%D8%AF%D8%B1%D8%A7%D8%A7%D8%B9%D9%84%D8%A7%D9%85%DA%A9%D8%B1%D8%AF

[11]. خبرگزاری صدای افغان: اظهارات شهباز شریف در مورد افغانستان غیر مسؤولانه است, 2 میزان 1402 ه.ش؛ لینک:
https://www.avapress.com/fa/news/258967/%D8%A7%D8%B8%D9%87%D8%A7%D8%B1%D8%A7%D8%AA%D8%B4%D9%87%D8%A8%D8%A7%D8%B2%D8%B4%D8%B1%DB%8C%D9%81%D9%85%D9%88%D8%B1%D8%AF%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86%D8%BA%DB%8C%D8%B1%D9%85%D8%B3%D8%A6%D9%88%D9%84%D8%A7%D9%86%D9%87

[12]. آریانا نیوز: شهباز شریف: امارت اسلامی از عبور جنگجویان به پاکستان جلوگیری کند، 11 اسد 1402 ه.ش؛ لینک:
https://www.ariananews.af/fa/%D8%B4%D9%87%D8%A8%D8%A7%D8%B2%D8%B4%D8%B1%DB%8C%D9%81%D8%A7%D9%85%D8%A7%D8%B1%D8%AA%D8%A7%D8%B3%D9%84%D8%A7%D9%85%DB%8C%D8%A7%D8%B2%D8%B9%D8%A8%D9%88%D8%B1%D8%AC%D9%86%DA%AF%D8%AC%D9%88%DB%8C/

[13]. آژند، فریدون، برکناری عمران خان؛ راه پاکستان از طالبان جدا می‌شود؟ 21 حمل 1401ه.ش، لینک:



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

https://www.independentpersian.com/node/229211/%D8%B3%DB%8C%D8%A7%D8%B3%B%8C%D9%88%D8%A7%D8%AC%D8%AA%D9%85%D8%A7%D8%B9%DB%8C/print%20%27/taxonomy/term/%27.%24node%3Efield_main_section%5B%27und%27%5D%5B0%5D%5B%27tid%27%5D

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارگان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000 +93780618000